# کابریکا (ناول)

(له کابله تر امریکا!)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکوال: نعمت الله رحيمي**

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:......................................................................................................

د کتاب نوم: **کابریکا (ناول)**

لیکوال: **نعمت الله رحیمي**

اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**

کمپوز: **خپله لیکوال**

د خپریدو کال: **2022 زېږدیز ـ ۱۴۰۰لمریز کال**

........................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۲۱ز - کالیفورنیا، متحده ایالات

د جولای ۱۲مه شپه تیره شوه، دوه دیرش کلن انډریو میلر له خوبه را پاڅید، غاښونه یې وینځل چې مور یې غږ کړ:
- انډریو زویه!

انډریو په ډکه خوله ځواب ورکړ:
- هو مورې! شیبه تم شه درځم

څو شیبې وروسته انډریو له خپلې خونې د باندې ووت غږ یې کړ:
- هو مورې! اوس ووایه څه دې ویل؟

مور یې د ټلویزیون ریموټ د میز له سر پورته کړ ټلویزیون یې بند کړ انډریو ته یې وویل:
- راځه دلته کینه!

انډریو کیناست مور یې وویل:
- د افغانستان له قونسلګرۍ کس راغلی ؤ پاسپورت یې راوړ ویل یې چې " د افغانستان ویزا یې پرې لګولې."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واه مورې څه یو ښه خبر زه همدې ته په تمه وم

مور یې غلې شوه، شیبه وروسته انډریو وویل:
- ولې مورې په تا څه وشول؟

له شیبې چوپتیا وروسته یې وویل:
- زویه! سمه ده چې موږ په یوه ډیموکراټیک ملک کې ژوند کوو او تراوسه مو ستا ژوند کې لاسوهنه نده کړې، دوه دیرش کلن شوې تراوسه جره ګرځې د ژوند لپاره دې کومه ملګرې پیدا نه کړه هیڅ مې درته ندي ویلي،خو!
- خو څه؟
- خو! زه نه غواړم زما د ځیګر ټوټه دې ځان د مرګ خولې ته واچوي

انډریو لنډه شیبه وروسته وویل:
- څنګه د مرګ خولې ته؟
- افغانستان ته تګ په همدې مانا دی چې ځان د مرګ خولې ته اچوې
- اووه مورې! هلته هم انسانان ژوند کوي زما د انځورګرۍ خوب همدا ؤ چې افغانستان او نورو ورته ځایونو ته ولاړ شم زه غواړم لرغوني او بې ساري ځایونه په انځور کې قلف کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور یې سوړ اسویلی وویست له لنډې شیبې چوپتیا وروسته یې وویل:

- خو زه ویریږم زویه!

انډریو په غوصه خپلې خونې ته ولاړ او هیڅ یې ونه ویل، څو شیبې غلی ناست ؤ او شیبه وروسته یې خپل لپ ټاپ را واخیست له ځانه سره یې وویل:

- زه خو یوه اونۍ وروسته تللم خو اوس باید د همدې سبا ورځې لپاره ټکټ وپیرم

آنلاین یې ټکټ وپیرلو او بیرته پر خپل ځای پریوت...

لنډه شیبه وروسته نیغ کښیناست له ځانه سره یې وویل:

- په بیړه کې خو مې د تگ پریکړه وکړه اوس اړ یم په څو ساعتونو کې یو ژباړن پیدا کړم

انډریو پر خپلو ټولنیزو رسنیو کې خورا ډیر څارونکي درلودل پر خپل فیسبوک پاڼه یې پوسټ وکړ " د یوه افغان ژباړن په لټه کې" له پوسټ کولو گړۍ وروسته یو پیغام راغلی ؤ د "سلیمان" په نامه یوه ځوان پر پیغام پاڼه لیکلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلام ښاغلی میلر! ډیره موده وشوه تاسو څارم او ستاسو انځورګري ډیر خوند راکوي که څه هم زه ژباړن نه یم لږ څه انګریزي مې زده ده خو کیدای شي ستاسو پکار راشم

میلر د پیغام په لوستو مُسک شو له ځان سره یې وویل:
- افغانستان کې هم مینوال لرم بیا مور وایي مه ځه

انډریو له سلیمان سره خبرې وکړې او خپل د ورتګ وخت په اړه یې مالومات ورکړل، پریوت ځکه ماښام ته الوتنه وه...

مازدیګر کیدونکی ؤ، انډریو د تګ په موخه له کور ووتلو او مور یې په نه زړه ورسره خدای پاماني وکړه...

ماښام الوتکې ته پورته شول او سفر پیل شو په الوتکه کې د انډریو څنګ ته یو ځوان ناست ؤ، انډریو ته یې برګ برګ وکتل ویې وویل:
- آیا ته امریکایی یې؟
- هو! ولې؟
- نو دا الوتنه خو افغانستان ته ترسره کیږي ته هلته څه کوې؟

انډریو له شیبې چوپتیا وروسته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته څه کوې؟

- زه ورتګ ته کومه لیوالتیا نه لرم، غواړم د کورنۍ غړي مې امریکا ته راولړ د هغوی لپاره ځم

انډریو سور اسویلی وویست ویې ویل:

- زه یې تصور نشم کولای هغه هیواد ته چې زه د انځورګرۍ په موخه ځکه روان یم چې ښکلا یې بې سارې ده، زه غواړم ښکلاګانې په انځور کې قلف کړم، تاسو له هغه هیواد څخه ځئ؟

له مقابل لوري څه ځواب وانه وریدل شو انډریو وویل:

- که موږ امریکایان داسې نورو هیوادونو ته لاړ شو لیرې نده چې له امریکا هم افغانستان جوړیږي، خپه نشې خو افغانستان باید افغانان اباد کړي بهرنیان نه!

کس هیڅ ونه ویل، ګړۍ وروسته ټول ویده وو خو انډریو دومره دې خوښۍ حس درلود چې خوب ته یې نه پریښودلو خپله کیمره یې را وباسله او د ځای ځای وریځې یې په یو انځور کې قید کړې، ستړی شو اړ ؤ ویده شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶ ساعته دوامداره سفر په پای ته رسیدو ؤ، الوتکه د کابل اسمان ته ورسیدله...

ګړۍ وروسته له هوايي ډګر را ووت او سیلمان د باندې ورته په تمه ؤ، شیبه وروسته یې یو بل ولیدل او ستړي مشي یې سره وکړل له هوايي ډګر را ووتل، سلیمان وویل:

- ښاغلی میلر، که غوره درته ښکاري نو ترڅو کابل کې یاست زما سره به واوسې زموږ جلا میلمستون دی تر هوټل خو ډېر ښه دی

انډریو مسک شو ویې ویل:

- آه مننه! خو نور راته ښاغلی مه وایه تا ډېر ټینګار وکړ چې له ما به پیسې نه اخلې او د یوه ملګري په څېر به افغانستان راباندې وینې نو ملګري مې ماته ښاغلی نه وایي

شیبه غلی ؤ بیا یې وویل:

- انډریو وایه! انډریو

سلیمان د سر په خوځولو ورسره موافقه وکړه او په موټر کې کښیناستل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان وو چې انډریو خپل موبایل را وویست سلیمان ته یې یو انځور ور وښود ویې ویل:

- ددې جومات انځورونه مې تر ټولو ډېر لیدلي مخکې له تلو دلته یو ځل ورشو؟

سلیمان انځور ته ځیر شو ویې ویل:

- آه دا خو شاه دو شمشیره جومات دی ور به شو!

ګړۍ وروسته شاه دوشمشیره جومات ته ورسیدل موټر ودرید او دوی ښکته شول، انډریو د تل په څېر خپله انځورګري پیل کړه څو انځورونه یې واخیستل او د کوترو تر څنګ ودرید سلیمان ته یې وویل:

- ددې ځای په اړه څه مالومات لرې؟

- نور خو نه پوهیږم خو دوه شمشیره دري کلمه ده مانا د دوه تورو پادشاه جومات وایي چې د ترکیې د ارتاکای مسجد نه وروسته جوړ شوی، لرغونی ځای دی او اکثره سیلانیان یې لیدلو ته حتماً راځي

انډریو څه ونه ویل د ځایي کوترو لپاره یې دانه واخیسته ور اچوله یې چې یوه بوډۍ ښځه راغله او د خیر غوښتلو لپاره یې لاسونه لپه کړل، انډریو له جیب د ډالرو پنځوسۍ را وویست او ور یې کړ، سلیمان برګ برګ ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یاره دا خو ډیرې پیسې کیږي ماته به دې ویل چې ما افغانۍ ورکړې وای

انډریو مُسک ویې ویل:
- اوبال لري مه کوه کیدای شي یو دوه ورځې د هغو پیسو له امله د ارام ساه واخلي او په کور کیني
- ته ثواب او صدقه منې؟

انډریو له شیبې چوپتیا وروسته وویل:
- زه خو مسلمان نه یم خو تر هرڅه مخکې انسانیت منم، ښځه وه ځکه مې مرسته وکړه ورسره ښځې ډیرې معصومې وي او خدای مه کړه ترڅو انسان اړ نشي چاته لاس نه نیسي چې "خیر راکړه" ته یوه ورځ ښځه شه ټول نرتوب به دې ووځي.

انډریو لنډه شیبه وروسته وویل:
- ښه دا پریږده دا ووایه دا کوترې له دې ځایه نه ځي؟

سلیمان مُسک شو ویې ویل:
- نه یاره! دلته ورته خواړه رسیږي همدلته عادت دي
- زما په آند د خواړو خبره نده شاید دوی دې ځای ته وفادارې وي، ګني خواړه خو د موږ خېټورو لپاره لا پیدا کیږي دوی خو دوه خځوځې وخوري هم مړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډریو د شاه دو شمشیره جومات څو انځورونه وباسل بیرته له سلیمان سره موټر ته پورته شول سلیمان وویل:
- باید یوې خیاطۍ ته لاړ شو چې درته افغاني کالي جوړ کړي، کابل کې خیر خو په نورو سیمو کې داسې ګرځېدل راته سم نه ښکاري ځکه ستا څېره له ځایي خلکو سره توپیر لري
- زه ویرېږم نه! خو خوښېږي مې ستاسو په څېر کالي واغوندم

ګړۍ وروسته خیاطۍ ته ولاړل د انډریو لپاره یې وطني کالي د ګنډلو لپاره ورکړل، او د سلیمان دې کور په طرف روان شول...

کورته ورسیدل، مېلمستون ته دننه شول، څو شیبې وروسته چای را ورسید د سلیمان ګاونډیان راغلل او له انډریو سره تولو ولیدل تر ډیره اړتیا پیدا نشوه چې سلیمان خبرې وژباړي ځکه افغانان اوس تر ډیره په بهرنیو ژبو پوهیدل، د چای له خوړلو ګړۍ وروسته ډوډۍ را ورسیدله انډریو وویل:
- آه زه دومره خوراک نشم کولای دا اوس مو چای سره څو رقمه خواړه وخوړل

د خونې له کونج یوه په عمر پاخه کس چې د سلیمان ګاونډی ؤ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دلته چې راځې نو بیا اړ یې خوراک وکړې ګني خپه کیږو، موږ افغانان په میلمه سر ورکوو

سلیمان دا خبر د انډریو لپاره وژباړله، انډریو شیبه غلی شو بیا یې وویل:

- چې هرڅه وي زموږ هیواد په تاسو یرغل کړی دی، زه ستاسو دښمن حسابیږم خو بیا هم تاسو ماته په غیږه سترګي مشي راکړل زما ښه راغلاست مو داسې وکړ لکه یو ورور مو چې له کلونو مسافرتیا وروسته وطن ته راستون شوی وي

له دې خبرې سره سم یوه ځوان وویل:

- صاحبه! موږ ساده نه یو، زړونه مو لوی دي او همدا لوی زړونه موږ ته بلاوې ګرځیدلې

د انډریو لومړۍ ورځ د سلیمان په میلمه پالنه کې سبا شوه، سهار د انډریو لپاره جوړ شوي افغاني کالي را ورسیدل، انډریو سلیمان ته وویل:

- نن باید ژر خپل سفر پیل کړو تر قندهار لاره اوږده ده

سلیمان رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- نو قندهار ته خو باید الوتکه کې لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه زه د افغانستان لیدلو ته راغلی له الوتکې څخه خو... سټلایټ کې هم ما لیدلی شو داسې

سلیمان غلی شو، لنډه شیبه وروسته یې وویل:
- زه تا نه ملامتوم خو کابل میشت قندهاریان په کلونو هلته نه ځي د ځمکې له لارې خو هیڅکله نه ځي.

انډریو ټینګار وکړ چې په الوتکه کې به نه ځي، سلیمان هم زړه نا زړه ورسره خبره ومنله، د سهار لس بجې شاوخوا له کور څخه روان شول د کابل څلورمې کارتې له سیمې څخه د کمپنۍ په لور روان شول...

ګړۍ وروسته د کابل کمپنۍ سیمې ته ورسیدل قندهار ته دې تګ لپاره یې ټکټونه وپیرل خو اړ وو تر ماښامه په تمه شي ځکه د قندهار لپاره د سفر ټاکل شوی وخت د ماښام ۶:۰۰ بجې ؤ.

د سړک پر سر یو څنګ ته ناست وو، سلیمان وویل:
- حالاتو ته په کتو نشم کولای تا داسې دې سړک پر سر تر ماښامه ځان سره کینوم، ته خو غواړې د افغانستان د هر ځای ښکلا انځور کړې راځه تر هغو چې ماښام کیږي د کابل پغمان ولسوالۍ ته ولاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډریو مُسک شو ویې ویل:
- ته که ژباړن نه یې خو د سفر لپاره غوره لارښود یې په دې ښه پوهېږې چې څنګه یو بهرني ګرځندوی ته لاره وښیې.

سلیمان مُسک شو څه یې ونه ویل، لنډه شیبه وروسته روان شول په افغاني ریکشا (زرنج) کې کښیناستل د لارې په لړ کې انډریو خپله کیمره را وباسله او ځینې ځایونه یې انځور کړل د ریکشې په څټ کې ولاړ ؤ چې ریکشا چلوونکي غږ کړ:
- اې دا څه لیونی یې سم کینه وبه غورځېږې بیا به د روغ سړي تاوان رانه غواړې

سلیمان وخندل:
- ههههه

او انډریو ته یې د کښیناستو لپاره وویل...

پغمان د کابل کمپنۍ سیمې ته نږدې پروت دی نو څکه څو شیبې وروسته خپل منزل ته ورسیدل...

د پغمان په بازار کې ولاړ وو د انډریو نظر د پغمان په " طاق ظفر" شو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا مې په ډېرو انځورو کې لیدلی غواړم څو انځورونه یې وباسم

سلیمان په فخر سره وویل:

- کابل خلک په همدې طاق ظفر باندې پیژني دا دې بریا یوه نښه ده، له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۱۹ز کال کې جوړ شوی ده.

ورځ په انځور اخیستلو ماښام ته رسیدونکې وه، له پغمان څخه بیرته کمپنۍ ته روان شول او قندهار ته په تلوونکي موټر کې کښیناستل په موټر کې د دوی څنګ ته ناست یو کس پوه شو چې دا کس بهرنی دی، سلیمان ته یې ورو وویل:

- وروره! غم نداري بُز بخر، قندهار ته روان یې نو دې لارې له حالت به هم خبر وې

سلیمان رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- ولې په لاره څه شوي؟

- د کمپنۍ له پُل ور هاخوا د ماښام وروسته د دولت واکمني ختمه ده، له ارغندۍ تر قندهار پورې د طالبانو واکمني ده، پر لاره تالاشیانې کیږي، چیک پواینټونه دي...

سلیمان څه ونه ویل خواشینی شو، شیبه وروسته اندېریو وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دې کس څه ویل؟

سلیمان غوښتل انډریو ونه ویریږي ویې ویل:
- هسې څه خاص نه وو.

د سلیمان زړه درزیدو څه یې نه ویل، ګړۍ تیره شوه، څنګ ته ناست کس بیا وویل:
- دې سیمې ته سالار وایي، دا ددې لارې د ننښتو او جګړو تر ټولو لویه دایره ده، له ۲۰۰۱ کال تراوسه دلته چا د آرام ساه نده اخیستې که شپه وي او که ورځ دلته حتماً چیک پواینټ...

لا خبره نه وه خلاصه چې د موټر د برېک ټسس شو، موټر چلوونکي وویل:
- تالاشي ده، ټول له موټر ښکته سئ!

دوی د موټر په پای کې ناست وو، ترڅو نور ښکته کیدل سلیمان انډریو ته وویل:
- ګوره چې دباندې خبرې ونه کړې زه وایم چې ګونګی یې

انډریو له داسې حالاتو ناخبره ؤ، کله یې تاوتریخوالی له فلمونو غیر نېږدې نه ؤ لیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیبه وروسته ور ښکته شول، خلک یې قطار درولي وو، شیبه وروسته مخابره وشوه یو کس له مخابرې سره یوې گوښې ته ولاړ، لنډه شیبه وروسته بیرته را وگرځید سلیمان او انډریو یې وگرځول او نور بیرته موټر ته پورته شول، څو شیبې موټر چلوونکی په تمه ؤ او لاړ...

له موټر تگ شیبه وروسته یو په قد لوړ کس راغی له انډریو یې وپوښتل:

- ته هماغه ویډیو واله یې ؟

انډریو خو غلی ؤ، سلیمان په بیړه وویل:

- قاري صیب دا گونگی دی خبرې نشي کولای

کس رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- زما پر تندي «خر» لیکلي؟

سلیمان هیڅ ونشو کړای اړ ؤ غلی پاتې شي، پر چیک پواینټ ۴ کسان ولاړ ؤ دوه کسانو انډریو او سلیمان له ځان سره بوتلل، تیاره او چوپتیا خوره وه، سلیمان وویل:

- قاري صیب! نور نشم تللی زه تکلیف لرم

له مقابل لوري په غوصه ځواب راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څنګه تکلیف؟ ته مرتد شوی یې تر دې لا غټ تکلیف سته!؟

له لویې لارې ډېر لیرې راغلي وو دې دوه غرونو تر منځ د وحشت څخه په ډکه سیمه کې ؤ، د غرونو په منځ کې نرۍ سپینه لاره ښکاریده، سلیمان یوه شو چې دلته خلک ډېر تګ راتګ کوي، شاوخوا یې وکتل په یوه څنډه کې د یونیسیف لخوا جوړ شوي تشنابونه تر سترګو شول د واره یې وویل:

- غواړم تشناب ته لاړ شم زما خیټه درد کوي

له ډېر ټینګار وروسته یې وویل:

- ځه ورشه خو ژر راځه!
- خو قاري صیب! زما بیک که راکړئ
- ولې تشناب کوې که په سفر ځې؟
- نه خو ځیني اړین څیزونه پکې دي

یوه کس بیک ور واچولو ویې ویل:

- واخله زموږ هم نه خوښیږي د کوپارو بوج یوسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیمان تشناب ته دننه شو، ددې بند د خلاصیدو لپاره یې سوچونه کول خپل بیک یې خلاص کړ یو لایټر او د باډي سپرې په لاس ورغلل ورو یې له ځانه سره وویل:

- آه دا مې په یوه مقاله کې هم لوستي وو چې باډي سپیره پخپل جوړښت کې ګاز او داسې کیمیاوي مواد لري چې که اور ته یې وپاشې نو لس چنده د اور سرعت زیاتوي

شیبه وروسته یې خپل بیک شاته واچولو لایټر او د باډي سپرې بوتل یې شاته پټ ونیول او د باندې ووتلو...

د باندې وتلو سره سم یې انډریو ته په سترګو اشاره وکړه چې شاته یې ودریږي، لایټر یې بل کړ یوه کس وویل:

- څه کوې اې د کاپر زو؟

څه ویلو ته نه وو پاتې لایټر ته یې سپرې وپاشله یو دم چغې شوې:

- اخ سترګې مې ... سترګې مې سوځي

سلیمان چغه کړه:

- انډریو را تښته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه درزار د شپې چوپتیا او د پښو د قدمونو غږ د غره په دې تنگه دره کې سره را غونډ وو...

له غره څخه را ښکته تر لیرې کوم کلی نه تر سترگو کیدو، د انډریو نظر یوې کوچنۍ غونډۍ ته شو ویې ویل:

- سلیمانه! هغه دی وینې یو کور ښکاري

د سوچ کولو وخت نه ؤ بې باکه د کور په لور ور روان شول، څو شیبې وروسته ورسیدل سلیمان زړه نا زړه د کور دروازه ټک ټک کړه، په لومړۍ ځل دروازه خلاصه نه شوه بیا یې دروازه ټک ټک کړه، شیبه وروسته د پښو د قدمونو شړنگهاار تر غوږ شو سلیمان له ځانه سره وویل:

- په دې شپه کې چا پایزیبونه اچولي؟

دروازه خلاصه شوه، په ونه دنگه پیغله ولاړه وه د لاټین سرې رڼا یې په سترگو کې ځرک وهلو، لنډه شیبه وروسته انجلۍ غږ کړ:

- ادې! ته راشه

شیبه وروسته یو بوډۍ راغله ویې ویل:

- فاطمې لورکۍ ته څه دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلۍ غلې روانه شوه، بوډۍ سلیمان ته ځیر شوه، لنډه شیبه وروسته یې وویل:

- څوک یې زویه!؟

سلیمان سترې ۇ اسویلي یې ویستل په بیړه یې وویل:

- هغه تروري... مور

لا یې خبره نه وه خلاصه چې ډزې وشوې سلیمان ځای پر ځای پریوت انډریو څنګ ته ولاړ ۇ، یوه شیبه د ډزو اواز ورک شو انډریو چغه کړه:

- راځئ دننه!

په بیړه دننه ولاړل، دروازه یې وتړله انډریو مخکې ولاړ سلیمان غږ کړ:

- تروري دې خوا راځه

بوډۍ ځای پر ځای ولاړه وه، چوپتیا خوره شوه سلیمان خپل د موبایل څراغ بل کړ بوډۍ ته نږدې ورغی، بوډۍ په خپله ګیډه لاس نیولی ۇ سرې وینې ترې روانې وې، سلیمان چغه کړه:

- تروري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډریو را منډه کړه په انګړ کې شور جوړ شو فاطمه د باندې را ووتله، بوډۍ پر ځمکه را ولویده فاطمې چغه کړه:

- ادې!

سلیمان ورغی بوډۍ یې را پورته کړه په ژړغوني غږ یې وویل:

- تروري په تا به هیڅ نه کیږي، روغتون ته دې بیایو

بوډۍ له ډیر کوښښ وروسته وویل:

- نه زویه... لور مې تاته امانت ده، هغه بې له ما هیڅوک نه لري... او..

د بوډۍ سترګې پټې شوې فاطمه په ژړا شوه، له سترګو یې مرې اوښکې روانې وې، په ژړغوني غږ یې وویل:

- زموږ سره مو څه دښمني وه

سلیمان دې څه ویلو په حال کې نه ؤ، فاطمې د خپلې مور په غیږ کې سر ایښئ ؤ ژړل یې، یو دم چوپتیا خوره شوه سلیمان ور منډه کړه، انډریو ته یې غږ کړ:

- بې هوښه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر لاړ د انګړ منځ له څاه یې اوبه را وباسلې د فاطمې په مخ یې وشیندلې، شیبه وروسته یې سترګې خلاصې کړې، بیا په ژړا سر شوه...

اندریو غلی ناست ؤ، نه پوهیدو چې دا سفر به داسې پایلې ولري، سلیمان یوه کونج ته ناست ؤ سهار کیدونکی ؤ فاطمې ته یې وویل:

- کلی څومره لیرې دی؟ او دلته کوم ملا شته د جنازې لپاره؟

فاطمې بانه له یو بل سره ور وستل په سلګو سلګو یې وویل:

- مورې هیڅوک نلرو مور مې د کور نارینه او ښځه دواړه وه، پلار مې مخکې وفات شوی، څکه چې مور مې په مینه واده کړی ؤ ټولو خپلوانو ورسره اړیکې پرې کړې مورې له کلي څخه ډیر لیرې پراته یو

سلیمان خواشینی شو بیا یې وویل:

- څه باید وکړو؟

- نور څه کوئ زما مورکۍ مو واخیسته اوس د خدای لپاره څه له خپل فیرنګي ملګري سره دواړه ورک سئ.

سلیمان اندریو ته وویل:

- ته همدلته اوسه، زه بیرته ژر راځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابلده ؤ، تر کلي او بازار لاره اوږده وه د غرمې ۱:۰۰بجه کېدونکې وه چې بیرته را ستون شو، شاته یې یو مُلا را روان ؤ، د فاطمې د مور جنازه ترسره شوه د کور په انګړ کې یې خاورو ته وسپارله، فاطمه د قبر سرته ناسته وه ژړل یې، سلیمان راغی ویې ویل:

- راځه خونې ته
- څه دي ماهم وژنې؟
- ملا صیب بیا ځي

فاطمې رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- نو زه څه وکړم؟

د سلیمان رنګ ژیړ اوښتی ؤ په خواشینې لهجه یې وویل:

- زه ستاسو ګنهکار یم، دا به زما پښتونولي ونه مني چې تا دلته یوازې پریږدم راځه ماسره نکاح وتړه ګني دا دې وجدان عذاب به ما ووژني

فاطمې هیڅ ونه ویل، ملاصیب را ووت د فاطمې خواته ورغی، فاطمه څو ګامه شاته ولاړه، ملا صیب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لورې! اوریدلي به دې وي چې هر ساه اخیستونکی به دې مرگ ذایقه وڅکي، په خدای که دوی دا کار له قصده کړی وي شاید همدا به د خدای غوښتنه وه، سلیمان چې نن تاته حاضر دی چې خپله دې کړي دا ومنه، ته یوه پیغله یې په داسې محیط کې یوازې ژوند کول گران دي.

فاطمه په سوچونو کې غرقه شوه، بله لاره یې هم نهٔ لرله اړه وه هو ووایي، څو شیبې وروسته یې وویل:

- ملا صیب! تاسو تر ما مشر یاست خپله به هم د یوې لور پلار وې څه چې درته سم ښکاري زه یې منم.

ملا صیب وویل :

- د خیر پکار کې به تادي کوو، مور ته دې الله جنتونه نصیب کړي، نن وي که سبا موږ هم تلونکي یو...

گړی وروسته نکاح وتړل شوه، ملا صیب بیرته ستنیدو سلیمان ورته ټوله کیسه وکړه، ملا صیب د تگ په وخت کې وویل:

- د انسانیت له مخې درسره مرسته کوم تاسو تم شئ زه خپل موټر راولم یوه لاره به وگورو

ملا صیب ولاړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډریو میلر له ځان څخه ویډیو کوله او غوښتل یې دا داستان نړیوال شي او خپور یې کړي، فاطمې سر په زنګون ایښی ؤ او وړې وړې سلګۍ یې وهلې...

وخت تیریدو ماښام کیدونکی ؤ د موټر د هارن غږ شو، سلیمان په بیړه ور ووت، ملا صیب راغی، موټر یې بند کړ یوه لاسي کڅوړه ورسره وه سلیمان ته یې وویل:

- تیاره کیدونکې ده، دا درې واړه واغوندئ او راځئ

سلیمان کڅوړه ترې واخیسته، په بیړه کورته دننه شو، کڅوړه یې خلاصه کړه، درې زنانه حجابونه وو انډریو په حیرت سره ور وکتل خو اړ وو همدا واغوندي، سلیمان وویل:

- چاره نشته نو!

درې واړو حجابونه واغوستل روان شول...

فاطمه خپل د خاپړو له کور څخه زړه نا زړه د خپل راتلونکي ژوند په لور روانه وه وړې وړې سلګۍ یې وهلې او موټر ته پورته شوه...

ملا صیب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شپه ده په لویه لاره کابل ته تګ له خطر خالي نه دی، باید د کلیو له منځ د وردګو چک ولسوالۍ ته لاره وباسو له هغه وروسته بیا څه ستونزه نشته

لارې خرابې وې د شپې ۹ بجې کیدونکې وې د چک ولسوالۍ تر غرنیو سیمو را ورسیدل...

- د شپې ۱۲ بجې - چک وردګ، زمان خیل

ټول غلي ناست وو، ملا صیب وویل:
- نور په آرامه زړه ویده شئ په یوه نیم ساعت کې کابل ته رسیږو، خو حجابونه مه ایسته کوئ ترڅو ما ندي ویلي، فاطمې سر کیښود سترګې یې پټیدې چې یو درز شو، موټر ځنګ ته ودرید، ملا صیب ښکته شو، شاوخوا یې وکتل بیرته راغی د موټر له کړکۍ یې سر دننه کړ ویې ویل:
- ټایر پنچر شوی ده، او سټیپني هم نشته!

ملاصیب بیرته موټر کې کیناست ویې ویل:
- ویده شئ! بله لاره نشته باید په تمه شو ترڅو شپه سبا شي دلته د پنجر جوړولو لپاره څوک د ورځې لا نه پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ویده وو خو فاطمې ژړل، سلیمان پرې را ویښ شو زړه نا زړه یې وویل:
- وږې شوې یې؟

فاطمې هیڅ ونه ویل، شیبه وروسته سلیمان بې له دې چې شور جوړ کړي له موټر ښکته شو فاطمې ورو وویل:
- چیرته ځې؟
- ژر راځم

د سړک شاوخوا په باغونو او ونو پوښل شوې وه، سلیمان یوه باغ ته ولاړ د موبایل څراغ یې بل کړ شاوخوا د منو ونې تر سترګو کیدې څو منې را وشکولې غلی بیرته د موټر خوا ته روان شو، د فاطمې سترګې په پټیدو وې چې د موټر د دروازې اواز را ویښه کړه ویې ویل:
- څه دې کول، چیرته تللی وې؟

سلیمان څو منې ورکړې ویې ویل:
- دلته همدا پیدا شوې د پرون شپې راهیسې دې څه نه دي خوړلي وخوره
- نه زړه ته مې نه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیمان له شیبې چوپتیا وروسته وویل:

- که دې مور درکړې وای بیا دې هم داسې ویل " چې زړه ته مې نه کیږي"؟ ته دې مور ماته امانت پریښې یې هیله کوم زما لپاره نه د مور لپاره دې دا ومنه چې اوس ستا بې له ما څوک نشته.

فاطمې په ژړغوني غږ وویل:

- ته خو به هم ما نه پریږدې؟

- ته زما میرمنه یې، زه چې د خپل بهرني ملګري لپاره خپل ځان د مرګ خولې ته ورکوم ته یې سوچ کولای شې ستا لپاره به زه څه کولای شم؟

فاطمه غلې شوه، دوې منې یې واخیستې، یوه یې سلیمان ته ورکړه ویې ویل:

- ښه خو دا یوه ته وخوره

سلیمان مُسک شو، منه یې وخوړله...

خوب، ګیډه، او وخت چاته صبر نه کوي، ورځې بیا پر ځمکه د رڼا څادر خور کړی ؤ، کابل ته د تلونکو موټرو اواز فاطمه له خوب را ویښه کړه شاوخوا یې وکتل سلیمان باندې یې غږ وکړ:

- اې ویښ شه، سهار شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیمان ویښ شو سترګې یې ومږلې شاوخوا یې وکتل انډریو ویده ؤ خو ملا صیب نشته ؤ، سلیمان په بیړه له موټر ښکته شو شاوخوا ځایونه یې وکتل خو ملاصیب پیدا نشو، نیم ساعت تیر شو له لیرې یو کورولا ډوله موټر ته سترګو کیدو ورو ورو را نږدې شو او څنګ ته ودرید، ملاصیب له موټر ښکته شو ټایر یې په لاس کې ؤ سلیمان ته یې وویل:

- څنګه دې رنګ ژیړ اوښتی؟
- هیڅ ملاصیب په اندیښنه دې وو چې چیرته تللی یې
- ههه! سهار وخته د ولسوالۍ بازار ته ولاړم پنچر مې جوړ کړ
- آه ملاصیب! زموږ سره په عذاب شوې

ملاصیب څه ونه ویل جیک یې را واخیست موټر یې پورته کړ ویې ویل:

- کله له یوه اړمن سره مرسته وکړه، هغه د آرام ساه کې ٪۱۰۰ حلال آکسیجن شتون لري

شیبه غلی شو، بیا یې وویل:

- ترټولو لوی مذهب انسانیت دی، زه ښه پوهیږم له تاسره یو کافر هم دی خو زه بیا هم مرسته درسره کوم، ځکه دې هغې ګناه ندې په همداسې یوه ټولنه کې پیدا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ټایر دوه نټونه یې وترل بیا یې وویل:

- هغه څه وایي؟ هو! " که تاسو غریب زیږدلي یاست دا ستاسو غلطي نه ده، که غریب مړه شوئ ستاسو غلطي ده " خودا دا جمله مې لکه چې غلطه وویله خو مطلب مې دا دی چې موږ مسلمانان یو ځکه په مسلمانه ټولنه او کورنۍ کې زیږدلي یو خو دی هم په داسې یوه بل مذهبې ټولنه کې زیږیدلی له ماشومتوبه همغه څه ویني چې کورنۍ یې ور زده کړي دي، کیدای شي د اسلام په لیدلو خپله پوه شي او مسلمان شي.

سلیمان مُسک شو ویې ویل:

- هو ملاصیب! ډیرې خوږې خبرې کوې

- حقیقت تل خوږ وي

ټایر وترل شو انډریو هم له خوبه پاڅیدلی ؤ، موټر حرکت وکړ...

ګړۍ وروسته ملاصیب وویل:

- دا د ټوپ دښته ده، نور کابل دومره لیرې نه دی، خپل حجابونه ایسته کړئ

شیبه وروسته مُسک شو بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- صرف تاسو دواړه یې ایسته کړئ، د ښځې زیور خو حیاء او حجاب دی

سلیمان انډریو ته وویل چې حجاب ایسته کړي، شیبه وروسته ملاصیب وویل:

- په دې بهرني به دې نه ایسته کولو، کابلیانو ته به مو ځان ښودلو چې ملا صیب خو ښه دنګه ښځه کینولې مخ سیټ کې، هههه! ټوکې کوم

سلیمان او فاطمه په خندا شول...

وخت په تیریدو ؤ، ګړۍ وروسته کابل ته را ورسیدل، ملا صیب وویل:

- ځئ نو لخیره کابل را ورسیدو ما خپله ژمنه پوره کړه

سلیمان له ملاصیب ډیره مننه وکړه، او دې پاتې کیدو ټینګار یې وکړ خو ملاصیب بیرته روان شو...

کور ته راغلل، انډریو مېلمستون ته ولاړ او سلیمان له فاطمې سره کورته لاړ مور یې کالي وینځل یو دم له پاڅیده ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وی زویه! شکر چې راغلې موبایلونه دې هم کار نه کولو، له اندیښنې مې یوه شپه خوب نه دی کړی... او دا انجلۍ څوک ده؟

سلیمان بې باکه وویل:

- اینګور دې ده.

مور یې تندی تریو کړ، سلیمان وویل:

- ولې غوصه شوې؟

بیرته مُسکۍ شوه ویې ویل:

- په یوه ښۀ زوی کورنۍ هیڅکله نه غوصه کیږي

مور یې نږدې ورغله ویې ویل:

- نوم دې څه دی؟

- فاطمه

- زه لور نه لرم، نور مې ته لور یې چې د خوابنې فکر راته ونه کړې

- ښه خاله..

- خاله نه! مور راته وایه

فاطمه مُسکۍ شوه، خو زړه یې لا تش نه ؤ، په نه زړه یې وخندل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازدیگر ؤ، سلیمان د انډریو لپاره د تللو ټکټ وکړ
انډریو لاړ... سلیمان خپله پښتو او افغانیت وپاللو انډریو يې د سر
په بیه بیرته تر خپل منزل را ورسولو، ۱۴ ورځې تیرې شوې تازه تازه
د فاطمې پر شونډو حقیقي مُسکا گل کړی ؤ، خو د انډریو
ویډیوگانې او د یوه افغان د غیرت کیسې او ملگرتیا په ټولنیزو
رسنیو کې لاس په لاس کیدې، څوک پوهیدل چې داسې نانذرۍ به
جوړیږي، د سلیمان لپاره د باندې وتل هم سخت شوي وو د خلکو
خولې چیرې څوک پټولای شئ

- د اگسټ ۱۸ نیټه

د کابل له سقوط درې ورځې تیرې شوې وې، سلیمان د مهاجرت
لپاره په کافي اندازه مدارک درلودل او چاره نه وه بې له دې چې وطن
پریږدي د اگسټ په ۱۸ مازدیگر له فاطمې سره هوايي ډگر ته ولاړ
خو دننه کیدل ستونزمن ښکاریدل فاطمې وویل:
- زه ویریږم راځه بیرته کورته لاړ شو کله چې دا گڼه گوڼه ختمه
شوه بیا به لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیمان ورسره ونه منله فاطمه یې له لاس ونیوله او په ګڼه ګوڼه کې هوايي ډګر ته دننه شول، ګړۍ نه وه تیره چې یوه لویه الوتکه راغله د خلکو په منځ کې شورماشور او ګڼه ګوڼه جوړه شوه، له دوی وغوښتل شول چې میرمنې یو قطار او نارینه د بل قطار کې راشي، فاطمه زړه نا زړه بل قطار ته ولاړه، څو شیبې وروسته ټول الوتکه کې کښیناستل الوتنه ترسره کیده چې یوه عسکر وویل:

- دا الوتکه دې دومره کسانو وړلو توان نه لري هیله کوم یو څو کسان ښکته شئ

هیڅوک نه وو حاضر چې له دومره سختۍ وروسته دې بیرته شاتګ وکړي بهرني عسکر اړ شول په زوره کسان ښکته کړي...

د ښکته شویو کسانو په منځ کې یو سلیمان ؤ چې بې زړه فاطمه په الوتکه کې ترې ولاړه او لارې یې جلا شوې...

د سلیمان دې زړه زور ختم شوی ؤ، یوې څنډې ته ناهیلی کښیناست د هوایي ډګر په منځ کې شپه پرې سبا شوه د یوه ماشوم په چغو له خوبه را پاڅیدو رنګ رنګ غږونه تر غوږ کیدل:

- مادرم کجاست؟
- مور مې چیرې ده؟
- زوی مې چیرې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بچه ی مره ندیدین؟

سلیمان له ژور خفګان سره مخ ؤ، د څه اوریدلو او ویلو توان یې نه درلود، د ورځې ۱۰:۰۰ بجې وې یوه بله الوتکه راغله خو د سترګو په رپ کې ډکه شوه، الوتکې حرکت کولو چې یوې میرمنې غږ کړ:

- فاطمه دخترم!

سلیمان له ځانه سره وویل:

- فاطمه!

بې باکه یې د الوتکې په لور منډه کړه، له کوښښ وروسته د الوتکې په وزر پورې ونښت، الوتکه هوا ته پورته شوه د سلیمان عصبي روغتیا ښه نه وه ساه یې ماته ماته کیده د لاندې یې وکتل، په سترګو یې تیاره شوه، او را ولویدو...

پای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**